# د کنفرانس لپاره باید کوم ډول مقالې ولیکل شي؟

د افغانستان د ځان بسیاینې لپاره د زرغون انقلاب لومړی نړیوال کنفرانس

## د افغانستان د کرنې او مالدارۍ د پیاوړي کولو په برخه کې وي.

- د دغه کنفرانس لپاره هغه ډول مقالې د قبلیدو وړ دي چې په افغانستان کې د کرنې او مالدارۍ د پیاوړي کیدلو لپاره لیکل شوې وي. باید په ټولو لیکل کیدونکو مقالو کې د افغانستان موضوع شامله شي.

## په لازمو برخو کې د افغانستان ځان بسیاینه په پام کې ونیول شي.

- د کنفرانس موخه د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د افغانستان ځان بسیاینه ده، لیکوالان باید په هغو برخو کې چې ورته اړتیا وي د افغانستان ځان بسیاینه و څیړي، کیدای شي په ځینو برخو کې ځان بسیاینې ته اړتیا نه وي بلکې د نورو هیوادونه څخه د بدیل په توګه محصول ترلاسه کولای شو.

## د هیواد په پالیسي او ستراتیژي جوړولو کې مرسته وکړي.

- د کنفرانس لپاره لیکل کیدونکې مقالې باید په کوچنیو موضوعاتو ونه لیکل شي بلکې داسې موضوعات وټاکل شي چې په لویه کچه په پالیسي او ستراتیژي جوړولو کې مرسته وکړي. تر څو د افغانستان د کرنې او مالدارۍ لوری او طرف و ټاکي.

## د موضوع اړوند فرصتونو او ننګونې په پام کې ونیول شي.

- اړینه ده چې په مقاله کې د موضوع اړوند فرصتونو او ننګونو څخه یادونه وشي او څرګنده شي چې اوسمهال د اړوندې موضوع سره سم کوم فرصتونه او ننګونې وجود لري.